## (A) برخه: د ځنګلدارۍ معرفت او پېژندګلو

## Recognizing the Importance of Forests
## دریم لوست: د ځنګلونو د درک او پېژندګلو اهمیت یا ارزښت

### د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه:

زده کونکي به ددي لوست په زده کړه کي له لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:

1. د ځنګلونو اهمیت یا ارزښت تشریح او روښانه کړئ.
2. د ونو ګټور تاثیرات تشخیص او تعین کړئ.
3. د ځنګلونو اقتصادي اهمیت یا ارزښت توضیح او روښانه کړئ.
4. د ښاري ځنګلونو اهمیت یا ارزښت بیان کړئ.

**د لوست ورکولو لپاره وړاندیز شوی وخت:** ۲ ساعته

**وړاندیز شوي منابع یا زیرمي:** لاندې منابع کیدلی شي چي په دي لوست کي ګټوري تمامي شي:

- ددي لوست درسي پلان د کمپیوټر په پاورپواینټ په پروګرام کي ارایه شوی دی
- http://greenpack.rec.org/forestry/importance_of_forests/13-01-01.shtml
- www.umich.edu/~nre301/**forest**ry-02.doc
- http://wiki.answers.com/Q/What_is_the_importance_of_Forests_and_Wildlife

### د سامونو، لوازمو ، شیانو او اسانتیاوو فهرست یا لړلیک

د لیکلو په خاطر سپینه یا تشه ورقه

د پاورپواینټ لپاره پراجکتور (غټ ښودونکی)

د پاورپواینټ سلایدونه

روښانه سلایدونه

د ځنګله عسکونه یا انځورونه

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي به تراستعمال لاندې راشي(ذکر شوي اصطلاحات د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کي ارایه کیري):

- Forest ځنګل
- Forest canopy د ځنګل سایبان ، د ځنګل سپره
- Piling پایه ګاني یا ستني
- Pulpwood نرم لرګی په ځانګړی ډول د کاغذ جوړوني لپاره
- Reserved forest land د محفوظ ځنګل لپاره ځمکه

- Timberland  وني لرونکی ځمکه
- Total forest land  کامل یا بشپړ ځنګل ځمکه
- Urban forestry ښاري ځنګلونه
- Veneer د لرګې مخه

**په زړه پوري تګلاره**: له په زړه پوري تلګلار نه استفاده وکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست اخستلو لپاره آماده شي. ښوونکي اکثره تګلاري د خاصو ټولګیو او زده کونکو د شرایطو لپاره تهیه او ترتیب کوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي دیوې ښې ممکنه تګلاري په نامه سره یاده کړل شي:

له زده کونکو څخه غوښتنه وکړي ترڅو چي د خپل ځآن سره یو ځنګل مجسم کړئ( یا دا چې دیو ځنګل تصویر نورو ته وښایي) له زده کونکو څخه غوښتنه کړئ ترڅو چي د پنځه شیانونومونه چي له ځنګل څخه په لاس راځي لست کړئ. د ټولګې بحث د لوستي په لوري مواجه او سوق کړئ.

## د محتویاتو خلاصه او د لوست ستراتیژي

**لومړی موخه یا هدف:** د ځنګلونو اهمیت یا ارزښت تشریح او روښانه کړئ.

(**د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید**)

**۱ -** وني د تل لپاره د بشر په پرمختګ او نیک بختی کي نفوذ او تاثیر درلودلی دی. له ونو څخه غذا یا خوراکه، درمل، غوړي، سرپناه، سویری، وسایل او نور شیان د ضرورت په اساس جوړیږي.

(**د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید**)

یو وخت ٦٠ فیصده یا سلنه ځمکه د ځنګل پواسطه پوښل شوې وه. خو د مدنیت او په ښار کي دژوند کولو همدارنګه په دي سبب چي پراخه ساحه د زراعتي کښت،معادن، ښارونو، او سرکونو په خاطر له ځنګلونو څخه پاکه شوه. نن ورځ تقریباً ۳۰ فیصده یاسلنه ځمکه هم د ځنګل پواسطه پوښل شوې ده.

(**د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید**)

**الف )** ځنګلونه زمونږ د نړی لپاره د ډیر زیات اهمیت یا ارزښت ور دي.

**۱ -** لرګي له اومه یا خامو موادو څخه عبارت دي چي له ځنګل څخه په لاس راځي،چي بي شمیره تولیدات او مصنوعات له هغې څخه جوړیږي، لکه کورونه، فابریکي، دفترونه او داسې نور.

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

**ځنګل (forest)** د ونو له ژوندۍ اتجماع یا ټولنې څخه عبارت ده چي یو له بل سره په پیچلي یا ګنډلی توګه یو له بل سره متقابله اړیکه لري چي په هغې کي حیوانات یا څاروي او نباتات هم د ژوند کولو توان لري. د ونو څخه لرونکی ځمکه**(Timberland) له ځنګلي** ځمکې نه عبارت ده چي له ۰،۵ مترمکعب څخه په زیاته اندازه لرګي تولیدولو توان او قدرت په هر ۰،٤ هکتاره ځمکه کي د یو کال په موده کي ولري او د هغې په پرې کولو کي ممناعت شتون ونه لري.

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

١ - افغانستان د ١،٣٥٢،٠٠٠ هکتاره ځنګلي ځمکه لري دا هیواد دلرګو له وارداتو سره تړاو لري یا تړلی دی.

٢ – د مخفوظ ځنګل ځمکه**( Reserved forest land)** داسي تعریفیږي چي د هغې پرې کول ممنوع وي.

٣ - **د ځنګل نوره ځمکه**، له هغه ځمکې څخه عبارت ده چي د ونو لرونکي وي ولي د زیرمه یا ذخیره کولو ډیره کمه اړتیا هم نه پوره کوي.

**(د پاورپواینټ ٨ شمیره سلاید)**

**د ځنګل کامله یا بشپړه ځمکه ( Total forest land)** د لرګې لرونکو ځنګلونو( timberland) له مجموعي نه عبارت دی، د ځنګل محفوظه ځمکه او د ځنګل نورې ځمک ې څخه( other forest land) عبارت ده. له شک څخه پرته د افغانستان د ځنګلدارۍ د اداري انکشافي عملي کړني یو اندازه کافي وخت ته اړتیا لري، افغانستان ددي توانایي لري ترڅو چي هغه ورځ راورسیږي چي د وراداتي لرګیو پوري ډیره کمه اړیکه یا تړاو ولري.

**(د پاورپواینټ ٩ شمیره سلاید)**

**٣ -** د ځنګلونو ټولنو یا اجتماع ګانو قدر او ارزښتونه له هغه ګټو څخه دي چي د ساعت تیرۍ او تفریح لپاره له کور نه د باندې ځمکه برابروي لکه: ښکار کول، د کبانو نیول، د طبیعت مطالعه کول، د اردو د استقرار لپاره ځآی، میلي، پیاده تګ لپاره لاري او د طبیعي منظرو ارزښت د الهي ورکړو په شکل سره.

****ددي لپاره چي پورته تعریفونو ته بیاکتنه وکړو یا بیا کتنه صورت ونیسي له زده کونکو څخه غوښتنه وکړي ترڅو د هغې اصطلاح تشریح وکړئ کومه چي تاسې دهغې له نامه څخه یادونه کوی. کله چي تاسې په دي ډاډ من شوۍ چي زده کونکو مفاهیم په ښه توګه سره درک او زده کړي دي، د لوست په هریو راتلونکی موخې یا هدف باندې رڼا واچوی.**

**دوهمه موخه یا هدف:** د ونو ګټور تاثیرات تشریح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواینټ ١٠ شمیره سلاید)**

**٢ -** ددي سره ، سره چي ځنګلونه زیات ګټي د تولید په برخه کي لري، ونې نور ارزښت هم لري.

**(د پاورپواينټ ۱۱ شميره سلايد)**

**الف)** ځنګلونو په پراخه ساحه کي اقليم نه متاثره کيږي، ولي په وړو ساحو کي ځنګلونه کولی شي چي په اقليمي شرايطو باندې تاثير وکړي.

۱ - ځنګلونه د حرارت يا تودوخې په درجې، رطوبت يا نم درلو دنې (humidity) او همدارنګه د باد په چټکتيا باندې تاثير لري.

- **د چتر يا چترۍ په شان جوړښت (canopy)** ځنګلونه د لمر د مستقيمو وړانګو په مقابل کي يو سپر دی ترڅو چي دا وړانګي په ځنګل ونه لږيږي او په دي توګه د ځنګل فرش د سورى لرونکى کوي يا دهغې لپاره يو چت ډوله جوړښت جوړوي چي دا امر په خپل ذات کي د ځنګل د هوا د حرارت يا تودوخې درجه، د خاوري حرارت درجه او د ځنګل رطوبت ترتاثير لاندې راوړي او ترخپل نفوذ لاندې يي نيسي.

**(د پاورپواينټ ۱۲ شميره سلايد)**

**۲ -** د ونو شاخې او پاڼي د باران د منفي تاثير په مخنيوى کي کوښښ کوي، داسي چي پاڼي او ښاخونه د باران قطري د چکک په شکل(څڅيدل) په ځمکه باندې لويږي، نه دا چې باران په يو ځآيي شکل سره په ځمکه لويږي. کله چي باران د ځنګل دځمکې فرش ته رسيږي،پس باران د ګيائيز پوښښ پواسطه (خاوره د ګياه او ورستو او قوي حيوناتو لرونکى ده) جذبيږي او په دي ترتيب سره د خاوره په سطحه باندې د اوبو له تلو څخه مخنيوى کوي.

**(د پاورپواينټ ۱۳ شميره سلايد)**

**الف )** دګياه او هيومس پوښښ(خاوره د ګياه او ورستو او قوي حيوناتو لرونکى ده) ددي سبب کيږي چي خاوره د سوريو درلودونکى وي چي دا امر په خپل ذات کي د اوبو کښيناستل د بستير لاندې (substratum)په هغه ځآی کي چي ذخيره يا زيرمه کيږي، ميسر کوي.

**(د پاورپواينټ ١٤ شميره سلايد)**

**ب)** د ځنګل خاوره په ډيره ټيټه توګه نه منجمده کيږي داچې د ځنګل خاوره اکثره د واوري له ويلي کيدو (melting snow)څخه اوبه جذبوي. د واوري د ويلي کيدو په وروسته والی او د واوري د اوبو جذبيدل خاوري ته، د ځنګلونو د اوبو جريان اوردوي چي دا عمل د اوبو سيلابي کيدو ته کموالی ورکوي او د لښتيو او دريابونو د اوبو جريان په يو نواخت ډول سره جوړوي.

**(د پاورپواينټ ١٥ شميره سلايد)**

**۳ -** ځنګلي پوښښ( Forest vegetation) د اوبو جريان د لمر د وړانګو له حرارت څخه په مکمل ډول سره د سوري په شکل ساتي او په دي ترتيب سره نهرونه او لښتي د لمر له لوړ حرارت يا تودوخې له اخستلو څخه خلاصيږي او پاک او غوښتل شوي لښتي د کبانو د ژوندانه لپاره مساعد کوي.

**(د پاورپواينټ ١٦ شميره سلايد)**

**۴** - په ځنګل لرونکو اوبو خپرونکو کي چیرته چي د عملي کړنو کړونواداره کول په مختاطانه ډول سره صورت نیسي یانیولی دی د ژمي او او اوړی په موسم کي د اوبو له سخت یا شدید جریان څخه مخنیوی کیږي، په دي معني سره چي چي د سیلابونو په کنترول کي مرسته کوي. د ځنګل لښتي او نهرونه معمولاً د کمې اندازې رسوب(sediment) لرونکي وي، حتي د لښتیو د جریان په لویو دورانونو کي.

**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

**۵ -** د وحشي ځناورو زیاتي نوعي او قسمونه(د وحشي حیواناتو عالم) په ځنګل کي پیدا کیږي، چیرته چي هغوي غذا یا خوراکه او خپل سرپناه په لاس راوړي.

**۴ -** ځنګلونه د بادونو د تخریب (wind erosion) د کموالی په خاطر ډیره کمه مرسته کوي. د بادونو مدنظر خساري عبارت دي له د خاوري په سطحه کي د اوبو وچیدل او د خاورو له تیت او پرک کیدو څخه عبارت دي. ځنګلونه د بادونو په مقابل کي لکه د دیوال په شکل واقع کیږي او د کورونو له تخریب، مالداری تخریب او تعمیراتي لرګي د یخو او ګرمو بادونو څخه مخنیوی کوي.

**** د پاور پواینټ ۱۸ شمیره سلاید هغه انځور په ګوته کوي چي په څه ډول سره واوره د واوري د ویلي کیدو او حرکت کول ورو کوي. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چي ځنګلونه په څه ډول سره له خاصو منطقو سره مرسته کوي.**

**دریمه موخه یا هدف:** د ځنګلونو اقتصادي اهمیت یا ارزښت توضیح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواینټ ۱۹ شمیره سلاید)**

**۳ -** د ځنګل داری منابع د اقتصادي او اجتماعي یا ټولنیز ارزښت یا اهمیت لرونکی دي. د ځنګل منابع په هغه وخت کي اقتصادي پیژندل کیږي چي عاید او لاسته راوړنه منځته راوړي.

**(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاید)**

**الف )** د تیر لرګی، څړځای ، ساعت تیري یا تفریح، منرالي یا معدني اوبه، کبان او د وحشیانو عالم(wildlife) دا ټول د ځنګل د اقتصادي لاسته راوړنې له مثالونوي ا بیلګو څخه ګڼل کیږي.

۱ - د ځنګلونو په لویه کچه اقتصادي برخه له مصنوعاتو څخه عبارت ده چي له ونو څخه په لاس باندې راځي.

**(د پاورپواینټ ۲۱ شمیره سلاید)**

- لرګی د تعمراتي کورونو، اپارتمانونو، تعمیراتو، صنعتي ودانیو یا ساختمانونو، اخبار، بکسونو، موبل او سپورتي تجهیزاتو مهمه برخه یا جز ګڼل کیږي.

**(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاید)**

۱ - په ټوله یا ګرده نړۍ کي له کلنیو پري کړي شوو لرګیو څخه نیمایي د پخولو په خاطر استعمالیږي. ځني له دي پري کړی شوو لرګیو څخه په مستقیمه توګه د سوخت یا سوځیدو لرګي په شکل سره سوځول کیږي او ځني له هغې څخه لومړي په ذغال بدلیږي او له هغې نه وروسته د ښار د اوسدونکو پواسطه او صنعتکارانو پواسطه د سوځیدو دمواد په حیث تر استفادي لاندې نیول کیږي .

- د افغانستان ۹۵ فیصده یا سلنه خلک لرګی د سوخت لپاره په کار وړي او د نورو مقصدونو لپاره تري هم استفاده کوي.

د پاور پواینټ ۲۳ شمیري سلاید د هغه انځور لرونکی دی چي د سوځیدو له لرګیو څخه ډکي دي چي د افغانستان ښاري عمده استقامت په حرکت کي دی، په ګوته کوي

**(د پاورپواینټ ۲٤ شمیره سلاید)**

۲ - د لرګیو یوه په دریمه برخه چي هر کال پري کیږي شامل دي د نجاری په لرګو( هغه چي قطعه ، قطعه شوي نه وي) چي وروسته په تعمراتي موادو باندې بدلیږیو لکه تختي، فنري یا فیبري تختي، د لرګی وړي ټوټي( هغه تخته چي د لرګی له ورو ټوټو او اري له خاوري نه درسته شوی وي) او د برادې تختي. د هغې یوه په شپږمې برخه د کاغذ په خمیري(pulp) تبدیلیږي چي په کاغذي مختلفو تولیداتو کي استعمالیږي.

**(د پاورپواینټ ۲۵ شمیره سلاید)**

**الف )** د ځنګل له ونو څخه تختي، د کاغذ لپاره لرګی، لرګیوه طبقه(veneer)، رسی یا پړي، د قطار د خط استحکامات(د ریل خطونه) او ستني جوړیږي.

- د لرګي له تختو څخه د مبل (furniture)او نورو صنعتي شیانو په تولید کي استفاده کیږي.

۱ - په افغانستان کي له لرګی څخه د چت په پوښښ، دروازو، کړکیو او مبل کي استفاده کیږي.

**(د پاورپواینټ ۲٦ شمیره سلاید)**

90 فیصد یا سلنه د چتونو پوښښ د لرګی پواسطه صورت نیولی دی.

99 فیصد یا سلنه دروازي او کړکۍ له لرګی نه جوړي شوي دي.

**(د پاورپواینټ ۲۷ شمیره سلاید)**

**دکاغذ جوړونې نرم لرګی (Pulpwood)** له هغه پري کړی شوی او خمیرې (pulp) ته له اماده شوي لرګی نه عبارت دی چي وروسته د کاغذ په تولید کي له هغې څخه استفاده کیږي.

**لرګینه طبقه (Veneer)** د لرګی په نازکې صفحې نه عبارت ده.

**پايه ګاني (Piling)** ګرد او اوږد تير دی چي په تعمراتو کي د استحکام (ستنو) په خاطر په کار وړل کيږي.

**(د پاورپواينټ ۲۸ شميره سلايد)**

**۲ -** د عين منابعو اجتماعي يا ټولنيز ارزښت لري چي شايد توليدي لاسته راوړنه ونه لري ولي اوس هم د توليد له پلوه چي د جامعي په نفعه وي، ارزښت يا اهميت لري.

الف) اجتماعي يا ټولينز ارزښتونه په عامه توګه له هغه ارزښتونو نه عبارت دي چي د ښکلا يا زيبايي له ملحوظاتو پوري تړلي وي، لکه د ځنګل د ساحې د منظرو کيفيت او مرغوبيت.

**(د پاورپواينټ ۲۹ شميره سلايد)**

**ب )** د ځنګل نور مربوطه ارزښتونه په بيولوژيکي ابعادو پوري تړلي دي، لکه د هغه حيواناتو يا ځآرويو او نباتاتو بي مثله والی(uniqueness) چي په ځنګل کي پيداکيږي.

- هغه ځنګلونه چي اجتماعي يا ټولنيز ارزښتونه ولري، د راتلونکو نسلونو لپاره د يادګار په ډول سره په ډير احتياط سره ساتل کيږي.

**(د پاورپواينټ ۳۰ شميره سلايد)**

د دي ځنګلونو ځني ساحي شايد په عين وخت کي په نورو ساحو کي هم د استعمال ځآيونه ولري، لکه د ځنګل څخه د تفريح کولو په ډول استفاده يا دبيولوژيکي ښکار ځای جوړول( biological preserves).

ج) له ونو څخه ډکه يا مړه ساحه چي مناسبه توپوګرافي ولري د اوبو د ذخيره يا زيرمه کولو لپاره له اوبو څخه ډکيږي.

**(د پاورپواينټ ۳۱ شميره سلايد)**

**۳ -** د منافعو تضاد( Conflict of interests) معمولاً د ځنګلي د ځمکې د اقتصادي او اجتماعي يا ټولنيز استعمال په منځ کي راځي. د داسې ساحې نمونه يا بيلګه عبارت له هغو ساحو نه ده چي د اوبو د ذخيره کولو يا زيرمه کولو لپاره له اوبو نه ډکه شوي دي او يا د ښکار کولو لپاره ځآنګړی شوی وي داسې ساحي د لرګی په صنعت تر استعمال لاندې نه نيول کيږي.

**** له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو د ځنګلونو او ونو نه د استفادي په برخه کي په مستقيم ډول سره د هري ورځي استفاده کول تشريح او روښانه کړي. د ځنګلي ونو د پرې کولو (deforestation)په برخه کي او د ځنګلي ونو د ساتنې په برخه کي ځانګړی لوست لرو، تاسې کولی شی چي بحث ددي امر په لوري چي د ځنګل د ونو سالمه ساتنه ولي ډيره مهمه ده سوق کړی، ددي لپاره چي افغانستان د ځنګلونو په لرګيو باندې قوي تکيه لري.**

**څلورمه موخه يا هدف:** د ښاري ځنګلونو اهميت يا ارزښت بيان کړئ.

**(د پاورپواينټ ۳۲ شميره سلايد)**

**۴-** ښاري ځنګلونه د ځنګلونو له برخې څخه یوه ځانګړي شعبه ده. ښاري ځنګلونه له عنعوي ځنګلونو سره ورته والی لري په دي معني سره چي د کرنې او ونو اداره د ګټي رسولو په خاطر جامعې ته صورت نیسي.

**(د پاورپواینټ ۳۳ شمیره سلاید)**

**الف) ښاري ځنګلونه (Urban forestry)** همدارنګه د ونو سهم یا برخه په اوسنی حالت او راتلونکی کي د فزیولوژي، سوشولوژیکي او اقتصادي پلوه، ښاري ټولنه یا جامعه په پام کي نیسي.

۱ – له دي څخه په غیر چي وني په کوم موقعیت د ښاري محیط یا چاپیریال کي قرار لري، دوي له لوی ځنګل څخه نماینده ګي کوي او یو مهم رول په کار منځته راوړنه کي، ښکلا، او حسن کي او د ښاري ټولنې له ژوند کولو د قابلیت څخه هم نماینده ګي کوي .

**(د پاورپواینټ ۳٤ شمیره سلاید)**

**الف )** وني د کوڅو ، سرکونو او خیابانونو په دوام یا امتداد سره کښت او کرل کیږي. په ښارونو کي له ونو څخه د کورونو، دفترونو، د اخستنې او پلورنې د مرکزونو او پارک ځایونو په ښکلا کي استفاه کیږي. وني په طبیعي ډول سره یا د ډیزاین پواسطه په هدیره، د ښار او پارکونو د شین کمربند په اطرافو کي خپري شوي دي.

**( د پاور پواینټ ۳۵ شمیره سلاید د ځنګلداری نموني یا بیلګي د افغانستان په هرات ولایت کي په ګوته کوي)**

**(د پاورپواینټ ۳٦ شمیره سلاید)**

**۲ -** له ښاري ونو او ځنګلونو څخه په زیاته اندازې سره ګټي په لاس راځي. دا ګټي یا فواید عبارت دي له اقتصادي ګټي، محیطي ګټي، وحشي عالم(wildlife)، ښکلا او اجتماعي یا ټولنیزي ښکلا ګاني.

- په ښاري محیطونو یا چاپیریالونو کي وني په مربوطه عملیاتي مصارفو په کمولو باندې مستقیم اقتصادي تاثیر لري.

**(د پاورپواینټ ۳۷ شمیره سلاید)**

**۱ –** د ونو له لویو ګټو یا فوایدو یو هم سوری دی، چي د حرارت یا تودوخې درجه ښکته کړي یا ښکته کوي.

**(د پاورپواینټ ۳۸ شمیره سلاید)**

وني او ځنګلونه د سوری پواسطه  د کورونو، ښوونځیو، او تعمیراتو، دفترونو په چاپیرچل کي د حرارت یا تودوخې درجه ښکته راوړي او په دي ترتیب سره د انرژي مصرف د هوا سازی د شایسته ګی لپاره د اوړی په فصل کي ورته کموالی ورکوي.

- ❖ وني او ځنګلونه نه يوازې و سورى پواسطه خپله هوا يخوي، بلکې د حرارت ياتودوخې په جذب کولو کي د تعرق(transpiration) يا خولې کولو په پروسه کي هم هوا په غير له فاصلې (immediate vicinity)يا نژدې ځايونو يخوي.

**(د پاورپواينټ ۳۹ شميره سلايد)**

**۲ -** پاڼي غورځونکي وني(Deciduous) خپل پاڼي د منى په موسم يا فصل کي له لاسه ورکوي، په دي معني چي په ژمي کي د لمر دوړانګو لپاره زمينه مساعده شي. له شک نه پرته د نور وړانګې په ژمې کي د سوخت مصارفو ته کموالى ورکوي.

**(د پاورپواينټ ٤۰ شميره سلايد)**

**۳ -** ښاري وني د باد ماتونکو په حيث هم خپله وظيفه يا دنده سرته رسولی شي او په دي ترتيب سره د ژمي د بادونو زور او قوت ته کموالی ورکوي، چي په دي اساس سره د سوخت مصارف او د ګرمولو مصارف ټيټيږي. باد ماتونکي(Windbreaks) له دي څخه مخنيوی کي چي واوره سړکونو، کوڅو او پارکونو ته لاره بيامومي.

**(د پاورپواينټ ٤۱ شميره سلايد)**

**ب )** د ښاري محيط وني له څو ناحيو څخه د خپل تاثير او نفوذ لاندې ځای نيسي.

۱ - څرنګه چي وني په ځمکه باندې سوی غورځوي، نو په دي بنا د خاوري د حرارت يا تودوخې درجه په اوړی کي يخه او د خاوري د رطوبت د ساتنې سبب کيږي. د رطوبت بقا ياپايښت څړځايونو، چمنونو او ګلونو او شنو باغچو ته ګټه رسوي.

**(د پاورپواينټ ٤۲ شميره سلايد)**

**۲ -** ښاري ځنګلونه د اوبو له پاشلو څخه ساتنه تامين کوي. دا تاثير په اوبو شيندونکو باندې د اوبو د پاکو منابعو لپاره د خښلو لپاره ګټورتوب لري. او يا اوبه شيندونکي(watershed) د تفريح کولو لپاره ښه او غوره ځآيونه لري.

**(د پاورپواينټ ٤۳ شميره سلايد)**

**الف)** د هغې بله ګټه د اوبو د طوفان اداره کول دی چي د هغې سرکشۍ يا طغيان ته کموالی ورکوي. له کوڅو څخه بي لاري شوو اوبته د ذخيري يا زيرمي د زونونو(storage zones) په لوري هدايت ورکول کيږي، چي دا کار د اوبو د جريان کميت او کيفيت تر تاثير لاندې راوړي.

**(د پاورپواينټ ٤٤ شميره سلايد)**

**۳ -** ښاري وني او ځنګلونه اکسيجن توليدوي او کاربن ډای اکسايد په مصرف رسوي چي دا عمل يا کړنه د ښاري منطقو د هوا په پاکوالی کي مرسته کوي.

**(د پاورپواينټ ٤٥ شميره سلايد)**

**ج )** د نړۍ په ځنډو او اطرافو کي، د ښار پارکونه او ځنګلونه د وحشي حیواناتو د عالم د ډیرو نوعو او قسمونو لپاره د اوسیدو ځآی په ښاري ساحو کې داخل تامین کوي. د متنوع ونو ساتنهاو بوټو او د لاندنۍ رستې د نباتاتو ( understory)نوعي او د متنوع وحشي حیواناتو نوعي تحریک کوي.

(**د پاورپواینټ ٤٦ شمیره سلاید)**

**د )** یو له هغه مهمو ګټو څخه چي دونو پواسطه په ښاري محیطونو یا چاپیریالونو کي تامین کیري په ساده ډول سره د هغې ښایست او ښکلا ده. ښکلا او حسن د بوټو او ونو د انسان په لاس د جوړ شوو ساختمانونو کلک خطونه نرموي او د چاپیریال زړه راښکونکی محیط ته زیاتوالی ورکوي.

(**د پاورپواینټ ٤٧ شمیره سلاید)**

**١** - د ښکلا (Aesthetic) او اجتماع یا ټولنې پوري تړلي ارزښتونه د ونو د درستې طرحې یا محل کولو پوري په ښاري محیطونو کي زیاتوالی پیداکولی شي.

- ❖ د یوې ونې نوعه له ښاري شرایطو سره توافق کوي ترڅو چي غوښتل شوی د لیدنې او کاري تاثیر تامین کړئ.

(**د پاورپواینټ ٤٨ شمیره سلاید)**

**ب )** که چیري ونې په منظارو او ښاري محوطو کي ځای په ځآی کړل شي په دي صورت کي د فصل ښکلا او ښایستوالی د ونو بله ګټه او ښکلا ده. ونې لکه مګنولیا(magnolia)، هندي شاه بلوط (buckeye)او دسرخک ونه( د سپي ژبئیزو (سګ زبانان)له کورنۍ څخه) د پسرلی په فصل کي ښکلي ګلونه لري، په داسې حال کي چي د افرا ونې ښاخ او پاڼه( foliage) او د فان ونې یا غوشه ونې (birch)ښاخ او پاڼه ښکلي او په زړه پوري رنګونه په پاڼه غورځونکی فصل(منی) کي تامین کوي.

(**د پاورپواینټ ٤٩ شمیره سلاید)**

**ل)** که چیري ونې په درست ډول سره مطالعه شي، په صحیح توګه ځآی په ځآی کړل شي او د هغې نه درسته څآرنه صورت ونیسي، نو له شک نه پرته ونې په پراخه پیمانه د اطرافي محیطونو(urban environments) لپاره د ژوندانه شرایطو ته بهبود بخښي.لیکن ونې په غیر له درست پلان څخه منفي تاثیرات هم لري.

**** یو ممکنه فعالیت دا هم کیدلی شي چي زده کونکي له یوې مخصوصي یا ځانګړی ونو لرونکي یا ځنګل لرونکې ساحې څخه لیدنه وکړي البته ځنګلي ساحه یا د ونو لرونکی ساحه د ښکلا او تاریخي ارزښت له پلوه مشهور وي. که چیري د داسې ساحو لیدنه ممکنه نه وي د زده کونکو لپاره د داسې ساحو مختلفو انځورونه وړاندې کړئ.**

**مرور یا بیاکتنه١خلاصه یا لنډیز:** ددي لوست د خلاصه یا لنډیز په خاطر د زده کونکو له زده کړو موخو یا هدفونو څخه استفاده وکړئ، زده کونکي د هري موخې یا هدف پوري مربوطه محتویاتو تشریح ته وغواړئ. د زده کونکو له ځوابونو څخه کولی شی د موخو یا هدفونو د اساسي ټاکنې لپاره چي باید تجدید نظر شي کار واخلی یا داچې له مختلفې زاوې څخه تدریس کړل شي، استفاده وکړئ. هغه سوالونه یا

پوښتني چي په ۵۰ شمیره د پاورپواینټ په سلاید کي ذکر شوي دي په دي برخه کي تري استفادي لاندې راتللی شي.

**تطبیق : زده کونکی کولی شي چي افغانستان د ځنګلي ساحو په باره کي بحث وکړی او یا هم د افغانستان تاریخي حنګل څخه لیدنه وکړي.**

**ارزیابی:** ددي لپاره چي د زده کونکو عمومي درک یا پوهه ارزیابي کړو له نمونه ئي ازموینې څخه چي لاندې ده، استفاده وکړئ.

**د نمونه ئي ازموینې لپاره ځوابونه**

**لومړی برخه: مطابقت ورکول**

1. g
2. c
3. f
4. b
5. d
6. a
7. h
8. e

**دوهمه برخه تکمیل یا بشپړ کول**

- urban forestry اطرافي ځنګلونه
- total forest land ټوله ځنګلي ځمکه
- income لاسته راوړنه
- Products تولیدات
- temperature, humidity, wind velocity د باد چټکتیا، نم یا رطوبت، حرارت یاتودوخې درجه
- wood لرګي

**دریمه برخه:لنډ ځواب**

**۱ -** ساعت تیری او له کور نه بیرون تفریح لپاره زمینه مساعدوي لکه: ښکار کول، کب نیول، د طبیعت مطالعه کول،د اردوځای استقرار، میلي، پیاده روی او د طبیعي منظرو ارزښت لکه دالهي ورکړو په شکل.

**۲ -** دتیرلرګی، څرځای، ساعت تیري یا تفریح، منرالي یا معدني اوبه، کب اود وحشي حیواناتو ژوند (wildlife) .

**۳ -** اقتصادی، محیطی یا چاپیریالي، وحشي حیواناتوژوند(wildlife)، ښکلا او اجتماعي یا ټولنیز ارزښتونه.

نوم : ________________

## دريم لوست: د ځنګلونو داهميت يا ارزښت درک او پيژندګلو

### مطابقت ورکول

**لارښوونه:** د صحيح يا درست ځواب په وړاندې مطابقه اصطلاح وړاندې کړئ. داصطلاح تورى نظر دهغې په تعريف سره وليکئ.

- forest ځنګل
- forest canopy د ځنګل پواسطه چتر
- piling پايه ګاني يا ستنې
- Pulpwood نرم لرګى د کاغذ جوړونې لپاره
- Reserved محفوظ
- Timberland د ونو ځمکه
- Trees وني
- veneer د لرګى طبقه

_________1 د ځنګلونو د اقتصادي له يوي برخي ځخه دي.

_________2 ګرد يا مدور اوږد تير دى چي په تعميراتو کي داستحکاماتو په خاطر(ستني) په کار وړل کيږي.

_________3 له هغه ځنګلي ځمکې نه عبارت ده چي په کال په ٠،٤ هکتاره ځمکې ځخه له ٠،٥ مترمکعب ځخه اضافه لرګى توليد کړي او دهغې په پرې کولو کي ممانعت شتون نه لري.

_________4 دلمر د مستقيمو وړانګو په وړاندې د ځنګل دسطحې مانع منځته راوړي او په دي ترتيب سره دځنګل فرش باندس سويرى کوي چي دا امر په خپل ذات کي د ځنګل د حرارت يا تودوخې درجه، خاوري حرارت يا تودوخي درجه او د ځنګل رطوبت ترتاثير او نفوذ لاندي راوړي.

_________5 له آماده شوي او پرې کړى شوى لرګو نه عبارت دي چي د لرګى دخميري(pulp) لپاره اماده وي او وروسته دکاغذ په توليد له هغې ځخه استفاده کيږي.

_________6 چي يو له بل سره په پيچده يا ګنډلى توګه متقابله رابطه ولري چي په هغې کي حيوانات او نباتات يو له بل سره پيوسته ژوند کوي.

_________ 7 د لرګى نازکه صفحه وي.

_________8 د ځنګل ځمکه چي د هغې له پرې کولو ځخه ممانعت شوي وي.

### دريمه برخه:تکميل يا بشپړ کول

**لارښوونه:** د لاندې جملو دتش ځايونو د ډکولو په خاطر مناسبي کلمي يا کلمه وړاندي کړي!

1 -   د ونو کښت او اداره چي د هغې د نفعې په خاطر جامعې ته چي فعاله برخه د ونو په اوسنی او راتلونکی حالت کي له فزیولوژیکي، سوشولژیکي پلوه او د ښاري ټولنو د اقتصادي پلوه مد نظر نیول کیږي په نامه د ________________ سره یادیږي.

2 - د ځنګل د لرګیو مجموعه( timberland)، د ځنګل ساتل شوی ځمکه او د ځنګل نوره ځمکه( other forest land)  په نامه د ________________ سره یادیږي.

3 - د ځنګل منابع یا زیرمي هغه وخت ګټوري ګڼل کیږي چي ______________________ منځته راوړي.

4 - د ځنګلونو لویه اقتصادي برخه اخستنه عبارت ده له ______________________ څخه چي له ونو څخه په لاس راځي.

5 – ځنګلونه __________________، ____________________ او ____________   ترخپل تاثیر لاندې راوړي.

اومه یا خام مواد دي چي له ځنګل نه په لاس راځي، چي له هغې څخه بې شمیره مصنوعات او تولیدات جوړیږي، لکه کورونه، فابریکي، دفترونه دا په نامه د ______________________ سره یادیږي.

**دریمه برخه:لنډ ځواب**

**لارښوونه:** لاندې سوالونو یا پوښتنو ته د ځواب په خاطر معلومات برابر کړئ

1 –  د ځنګلونو اجتماعي یا ټولنیز ارزښتونه چي د ساعت تیرۍ لپاره زمینه مساعده کوي کوم دي؟

2 –  د ځنګل د تولیداتو د لاسته راوړني نمونې یا بیلګې کومې دي؟

3 – له ښاري ځنګلونو څخه کومې ګټې په لاس راځي تشریح یې کړئ؟